# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



لیـــکوال او شناند: نظرمحمد مطمئن

۰۱ مارچ ۲۰۱۵

## د مذاکراتو روانه لړی؛ ایا پاکستان طالبان خبرو ته اړباسل؟

تېره اوونۍ د بي بي سي په ګډون ځينو پاکستاني رسنيو د افغان طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د خبرو اترو په باب هيښوونکي خبرونه خپاره کړل. د پاکستان اردو ژبې ايکسپريس ورځپاڼې بيا دا هم په کې ويل چې د طالبانو د قطر دفتر غړي د افغان حکومت سره د مذاکراتو له پاره پاکستان ته ورروان دی. سره له دې چې هغه خبرې خپرې شوې، خو تر اوسه د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د مذاکراتو کوم څرک ونه لګيدی، مګر دغو تبليغاتو ځينو ته لا هم د غولوونکي سراب ښوولو له لارې د سولې هيلې راژوندۍ کړې دی. داسې ښکاري چې دغو تبليغاتو نه يوازې پر عادي سولې ته تږي افغان اغيز کړی، چې ولسمشر هم له دې اغيزې مستثنا نه دی.

### غولوونکی سُراب

ولسمشر اشرف غني د سولې په نوم غولوونکي لومه کې راګيری دی، داسې لکه په دښته کې چې تږی مسافر په غولوونکي سراب پسې لالهانده منډې وهي او بالاخره په خپل مخکې تګ سره ځان هلاک کوي. که ولسمشر په خپلې نوې رويې کې بدلون رانه وړي، خدای مه کړه له سياسي هلاکت سره مخ کېدونکی دی.
پاکستان د حامد کرزي له حکومت سره هم څو ځلې دغه ډول تبليغاتي لوبې کړې وې؛ خو داسې ښکاري چې ولسمشر غني د دې نوې لومې په لومړنيو پړاوونو کې پرې زړه بايللی او ګومان کوي چې ګواکې د لسيزو رقيب پاکستان يې پر دوست او متضادې ګټې پر موازي هغو بدلې شوې دي. د دې تبليغاتو يوه په زړه پورې نښه دا ده چې پېل يې له پاکستانه وشي او بيا دلته په کابل کې تر بل هر ځايه ورته لا پراخ کمپاين وشي.

### امنيتي تړون سره کرښه ده!

امنيتي تړون د حامد کرزي او د امريکا د حکومتونو ترمنځ تر ټوله ناندريزه موضوع وه. کرزي چې تر بل هر چا امريکايان ښه پيژندلي وو او له هغوی سره يې تعامل ښه زده دی، د تړون پلوو امريکا تبليغاتو ته تن ورنه کړ او په وروستيو کې امريکايانو ته يې کمی ساري «نه» وويل.
مګر ولسمشر غني بيا د حامد کرزي د «نه» په پرتله په همدومره عجله دا تړون لاسليک کړ، داسې تړون چې ښايي د سولې هيلې به يې په ګروت کې وي.

(باوري سرچيني وايي چي غني له ټاکنو نه مخکې له طالبانو سره په کوم عربي هيواد کې ليدنه کړې وه او هغوی ورته په ښکاره ويلي و چي د امنيتي تړون لاسليک سره کربښه ده!)

له ولسمشريزو ټاکنو څخه وړاندې ډاکټر اشرف غني ته دا خبره شوې وه چي له امريکا سره د امنيتي تړون لاسليک سره کربښه ده او ډاکټر غني هم وعده کړې وه چي واک ته په رسيدو به امنيتي تړون نه لاسليک کوي.

آيا ممکن به وي چي ډاکټر غني پر ځان د طالبانو باېللی اعتبار بيرته په ځای کړي، له بېلابېلو لارو څخه غني طالبانو ته نږدې کسانو ته ډاډ ورکړي و چي طالبانو ته مخامخ دغه پيغام ورسوئ چي که «زه واک ته ورسېږم امنيتي تړون ځنډوم او نه يې لاسليکوم».

## د ژنيو لوبه تکرار نه شي!

که څه هم له امريکا سره امنيتي تړون لاسليک د طالبانو او افغان حکومت تر منځ سره کربښه ده، مګر د جهاد پر مهال د اسلامي ګوندونو او ډاکټر نجيب الله تر منځ د نه خبرو او مذاکراتو ته نه چمتو کيدو ترخه تجربه هم په ياد لرو، چي څه ډول پاکستان په ژنيو کې د مجاهدينو استازيتوب وکړ او د مجاهدينو ګوښيتوب بيا کورنی جګړه هم رامنځته کړې.

هغه مهال که څه هم مجاهدين ډېر پياوړي او په نړيواله کچه پېژندل شوي وو؛ خو بيا يې هم په دغسې حياتي مذاکراتو کې استازيتوب د پاکستان په برخه رسېدلی وو؛ خو نن طالبان دومره توانېدلي چي خپله خبره په خپله ژبه وکړي، چي دا ښايي په ټوله کې په نېک پال ونيسو.

که نن ولسمشر غني پر دې خوشاله وي چي پاکستان به ځينې طالبان مجبور کړي چي د افغان حکومت سره يې د سولې خبرو ته کينوي، خو زموږ هغه ترخه تجربه هم ياد ده چي په پېنډۍ کې د مجاهدينو حکومت جوړ، ښاغلي حکمتيار يکې ناديده ونيول شو، د هغه خوښه يکې وانه خيستل شوه، پايله يې دا چي دا دی ۲۶ کلونو کېږي چي موږ لا هم په جګړه کې بوخت يو.

## که پاکستان د طالبانو په نامه خلک خبرو ته کېنوي...؟

اوس که د اصلي طالبانو پر ځای يوه ډله خلک پاکستان له افغان حکومت سره خبرو ته کينوي، نو بيا به يې پايله همهغسې ناسمه نه وي؟ پاکستان به له اشرف غني سره په روانه سناريو کې رښتيني وي؟ ايا پخوانی رقابت واقعاً پر دوستي اوښتی؟

ولې د افغان حکومت او طالبانو د سولې اړوند خبرې تيره اونۍ دومره زياتې رسنيزې شوې؟ بېلابېل عوامل به لري:

د دفاع پخواني وزير بسم الله محمدي د دلوې په ۲۶مه ۱۳۹۳ وويل چي د پاکستان آی ايس آی په افغانستان کې جګړه کوي، په سبا ورځ د پاکستان د پوځ مشر راحيل شريف کابل ته راغی، ولسمشر غني ته يې ډاډ ورکړ چي طالبان خبرو ته چمتو شوي.

<u>او داخبره لاهم پټه ده پاکستاني رسنيو نه ده ښکاره کړې، چي کله په پاکستان کې د طالبانو او چين ترمنځ د دوه اړخيزه اړيکو د جوړولو په موخه ليدنه وشوه، چي ډيرې خبرې يکې د چين له خوا په افغانستان کې د معدنو استخراج، د ختيځ ترکستان غورځنګ او ځينې نور فرعي مسايلو باندې هم بحث وشو. له دې خبرې دا هم په ګوته کېدای شي چي روان د پاکستاني رسنيو تبليغات پر څه فوکس لري او موخه يې څه ده.</u>

له دي ليدني وروسته د پاکستان رسنيو راپور ورکړ چي د طالبانو پلاوی له قطر څخه پاکستان ته راغلی او له پاکستاني چارواکو سره يې د افغان حکومت سره د سولې اړوند خبرو باندې ناستې کړي، ولي اصل موضوع بيخي يکي ورکه ده چي له چين سره د طالبانو خبري وي.

که پاکستان په دومره اساني سره طالبان له افغان حکومت سره خبرو ته کينولی شي او طالبان د پاکستان د خولي خلک وي، د پاکستان خبره مني، نو بيا خو افغان حکومت، امريکا او نړيوالي ټولني ته په کار ده چي د تيري ديارلس کلني جګړي د تاوان  غوښتنه له پاکستان څخه وکړي، او په رسمي ډول د جګړي پړه پر پاکستان ور واچوي.

موږ لاهم د سولي اړوند له افغان حکومت څخه مجهول خبرونه اورو، د افغان حکومت دعوه ده چي د سولي خبرې نتيجي ته نږدې دي، د دې پرځای چي وويل شي چي خبرې به عملاً شروع شي بلکې هغوی يې د نتيجې دعوه کوي.

## «طالبان ۱۰۰٪ خبرو ته چمتو دي!»

ولسمشرغني ته نږدې کسان وايي چي تير وختونه به راحيل شريف کابل ته راتلی، نو ۲۰٪، ۵۰٪ او ۸۰٪ خبري به يې کولي چي طالبان له حکومت سره خبرو ته اماده شوي، داځل چي راغی هغه ويلي چي ۱۰۰٪ خبره جوړه ده او طالبان خبرو ته چمتو شوي.

بله خبره د غني له خوا دا شوې چي دا ځل پاکستان طالب مشران په کراچۍ کې راټول کړي او هغوی ته يې ويلي چي سوله او خبرې ستاسي په ګټه دي که خبرو ته چمتو ياست ښه ده او که نه وي نو پاکستان پر تاسي مرستې بندوي او د بل ځای په لټه کې شئ.

بل خوا بيا طالبانو ته نږدې سرچيني وايي چي ډيری طالبان د داسي ورځي انتظار دي چي کله هم پاکستان دوی ته ووايي چي تاسي له پاکستان څخه ووځئ او د بل ځای په لټه کې شئ.

فکر کيږي چي پاکستان پر طالبانو د فشار راوستلو او له پاکستان څخه په يومخيز ډول د هغوی شړلو پر زيان ډير ښه پوهيږي، چي امنيتي وضعيت به په پاکستان او افغانستان دواړو هيوادونو کې نور هم خراب شي او طالبان په ډيره اسانۍ سره کولای شي چي کوم بل ځای ته کډه شي.

۱۰۰٪ د سولې  دخبرو له پاره د طالبانو چمتو والي عقل نه مني او د کراچۍ او پاکستان له خوا داسي عمل هم ماته سم نه برېښي ځکه لا هم د هند لاسونه له افغانستان څخه وتلي نه دي.

ولسمشر  غني لګيا دي د سولي اړوند له خلکو مشورې غواړي چي څه ډول سوله وشي، له طالبانو سره کوم ډول خبرې په مخ يوړل شي او  هغه وايي چي اخرنۍ خبري بايد کابل کې وي او د افغانانو لاس کې وي، امريکا به هم په خبرو کې حضور لري خو خبري به د افغان حکومت په واک کې وي.

د ارګ  څخه دا خبره هم راوتلي ده  چي قطر ته هم پاکستان خپل خلک استولي او د قطر طالبانو  هم د خبرو له پاره وعده کړې.

ولسمشر په دې کې هم  له ځينو کسانو مشوره غوښتي چي  قطر که پاکستان به د لومړنيو خبرو د شروع له پاره مناسب ځای وي؟ او بل غني په ځو ځله ويلي چي زه حتما سوله راولم او که سوله رانه ولم نو حکومت هم پريږدم.

يوه خبره ډېره مهمه ده چې غني په غرب کې وخت تير کړی هغه پوهيږي چې څه ډول د خلکو ذهنونه خپل لورته ور مات کړي.

## سوله او د پاکستان نوې لوبه!

د پاکستان او ولسمشر غني ترمنځ لوبه ښه کرمه روان ده، د پاکستان د پوځ له مشر سره د غني دا توفق هم شوی چې افغانستان به هغه پاکستاني طالبان چې افغانستان کې دي پاکستان ته سپاري او پاکستان به افغان طالبان خبرو ته کينوي.
ولسمشر غني لومړی سفر سعودي او بيا چين ته د دې له پاره وکړ چې ياد هيوادونه پر پاکستان فشار راوړي چې طالبان د سولې خبرو ته کينوي، پاکستان د غني دغه کړنه په خير ځارله، هڅه يې وکړه چې د غني مخه راوګرځوي، همداسې وشول، له غني سره يې نږدې روابط ټينګ کړل، د دې له پاره نه چې حالت مثبت لورته يوړل شي، د دې له پاره چې د غني د سفرونو سلسله وترل شي، پر پاکستان د کوم هيواد له خوا فشار ته اړتيا پيدا نه شي او د سولې اړوند له ولسمشر غني څخه د نورو هيوادونو توجه کمه کړي.
همدا ډول پاکستان وکولای شول چې له غني سره په ډير نږدې والي سره د هند او افغانستان تيری ١٣ کلنې نږدې اړيکې هم زيانمنې کړي.
پاکستان ته به ستونزمنه وی چې په افغانستان کې د هند نفوذ په پوره او يا لوړه کچه کم شوی نه وی، دوی دې په افغانستان کې سولې ته ليواله شي.
د طالبانو او افغان حکومت د سولې خبرو اړوند به پاکستان مجبور وي چې همدغه ډول رسنی او افغان چارواکي بوخت وساتي.
ممکن چې يوه ډله مجهول الهويه کسان به د طالبانو په استازيتوب له کابل اداری سره پاکستان کينوي، لکه څنګه يې چې د نړی په نورو فورمونو کې په پټه کول او کړي، هغوی به افغان حکومت ته ځينې سخت شرايط هم وړاندې کړي، خو دا ټول د لوبې برخې دي، افغان چارواکي به هله پوه شي چې د ورځې په اخر کې هيڅ هم په لاس کې ونه لري.
که چيرته همدغه لوبه ترسره شي او پاکستان له افغان حکومت سره يوه ډله د طالبانو په نوم کينوي، نو دا بيا د سولې په ځای ستونزې زياتوي، طالبان  به نور هم د سولې په پروسه بې باوره شي او په راتلونکي کې به هيڅ ډول د سولې مذاکراتو ته چمتو نه وي.
ځينې داسې راپورونه هم شته چې پاکستان همدغه ډول کسان چې يو يکې د ملاجليل آخند نوم يادېږي له افغان دولت، چين او روسيې سره هم پټو خبرو کې کينولي دي.

## پاکستان ولې قطر بهير سره دلچسپي نه لري؟

په قطر کې له اوږدې جګړې وروسته طالبانو د لومړي ځل لپاره خپل سياسي ادرس مشخص کړ؛ خو د دفتر له تاسيس او پرانيستنې راهيسې پاکستان قطر بهير سره دلچسپي نه لري. تل يې هڅه کړې ده چې ځينې مجهول عناصر د طالبانو د ربنتينو استازو په نامه رسنيو کې مطرح کړي، ويې پرسوي، افغان حکومت پرې وغولوی او پای کې ځان ته يو لړ امتيازات ترلاسه کړي. دا لوبه پخوا هم پاکستان کړې، وخت يې وژلی او امتيازات يې ترلاسه کړي. پخوا هم د ستونزې ريښه همدا وه چې افغان حکومت د پاکستان له خوا پر شوو ژمنو باور کړی و؛

خو هغه مهال د ولسمشر کرزي حکومت په ټوله کې د پاکستان کړنو ته په مشکوک نظر کتل، نه لکه ولسمشر غني چې له اوبو ليدلو وړاندي پايڅې بډ وهي!

لکه څنګه چې پورته ورته اشاره وشوه، طالبان لږ تر لږه توانېدلي چې په نړيوالو فورمونو کې خپلې خبرې په خپله وکړي، ښايي د طالبانو همدا طبيعت وي چې پاکستان د قطر بهير ته په ښه سترګه نه ګوري او تل يې دوه ګوني لوبه کړې ده.

طالبانو له ډېره وخته پر يوه تګلاره باندې کار کاوه، داسي تګلاره چې د سياسي او نظامي مسايلو اړوند د امريکا او بيا په وروسته کې که امريکايان له هيواده وځي د کابل اداري سره د خبرو او مذاکراتو مربوط مسايل يکې ځاې او يوه رڼه تګلاره ولري.

معلوميږي چې د طالبانو دغه تګلاره وروستی شوې، د پاکستان چاړواکي ورنه خبر او د همدې موقع نه استفاده شوې، ځکه په تګلاره کې هرڅه واضح دي، له امريکا سره د ستونزې اړوند څه ډول خبرې او د قطر دفتر د تيرو تجربو په نظر کې نيولو سره که ادا ځل خبرې پيل کيږي په کوم ډول به وي، داسي ښکاري چې طالبان په بين الافغاني تفاهم باور لري.

طالبان وايي چې تر دي مهال له افغان حکومت سره د مذاکراتو اړوند پريکړه نه ده شوې، ولې د حکومت او بيلابيلو خواوو څخه د خبرو کولو او مذاکراتو کولو غوښتنه شوې، طالبان وايي چې موږ ته خپل شرايط مهم دي او هغه د دي اجازه نه راکوي چې له کابل اداري سره د خبرو ميز ته کښينو.

ځينې شنونکي په دي نظر دي چې پاکستان نه غواړي چې قطر دي د طالبانو د مذاکراتو مرکز وي، غواړي د قطر پروسه ناکامه شي، نو ځکه يي د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د خبرو کولو اوازې خپرې کړي.

سياسي شنونکي په دي نظر دي که پاکستان پر افغان طالبانو فشار زيات کړی، هغوی به په افغانستان کې دننه هغو سيمو ته ځانونه ورسوي چې د طالبانو تر کنټرول لاندي دي، داسي هم ويل کيږي چې د نړی ځينو نورو هيوادو ته به هم ولاړ شي؛ ځکه اوس د دوی اړيکي له ځينو نورو هيوادو سره ډير ټينګ شوي دي، د دي پر ځاې چې امنيت سم شي، نا امني به زياته شي، د نوی لمريز کال د شروع سره دناامنی د زياتوالي امکان ليدل کيږي.

داسي راپورونه هم شته چې طالبانو او امريکايانو په دريم لاس خبرې کولې، امريکا طالبانو ته وعده و رکړي چې تر ۲۰۱۶ ز کال به خپل ټول پوځيان له افغانستان څخه باسي، يواځې د ۱۰۰۰ تنو په شاوخوا کې به يې د امريکا د سفارت ساتني دنده په غاړه لري او پاتي به شي.

امريکا دا هم منلي وه چې د قطر دفتر به دوېم ځل پرانستل کيږي، او ځينې راپورونه خو داسي هم دي چې تيره اونۍ د امريکايانو او طالبانو ليدنه شوې.

**لنډمهاله يارانه**

ډيری شنونکي په دي نظر دي چې پاکستان او افغانستان به يو له بل سره په شويو وعدو او ژمنو سرته رسولو کې پاتي راشي، او د دوي دغه نږدېوالی به ډير وخت دوام ونه کړي.

پاکستان د سولې له خبرو څخه په يو مخيز ډول ايستل هم ستونزمن کار دی او په کلي ډول په خبرو کې شريک ساتل هم ستونزې پيداکوي.

ښه دا ده چې د پاکستان، ایران او نور ګاونډي هیوادونه د  هند، روسیې ، چین او برتانیا په شمول  په  اعتماد کې واخیستل شي، امریکا د سولې رښتیني پروسې ته داخله شي، افغان حکومت او امریکا د جنګ پرځای د سولې تګلاره غوره کړي.

که خبره په اوسني حکومت کې د طالبانو راشریکول، هغوی ته په شمار څو وزارتونه او یو شمیر ولایتونه ورکول وي، او له دې ها خوا نور څه نه وي، له امریکا سره د امنیتي تړون اړوند د اوسنی افغان اداري ټینګار په خپل ځای پاتې وي، بیا نو د سولې خبرې یواځې شعار دی، او په دې ډول به ولسمشر غني غواړي چې خپله پنځه کلنه دوره پوره کړي، چې په مخ کې ډیرې ستونزې ورته پرتې دي.

په دې امید چې د سولې له پاره د خنډونو په نښه کول او له منځه وړلو باندې فکر ؤشي او د سولې له پاره په حل لارو غور ؤشي. داسې حل لارې چې د افغان ولس له بطن څخه وي، نه د لویدیځ او ټوپکسالارو د سولې  طرحې.

د باثباته او سوله ییز افغانستان په هیله